مطبوعاتي اعلاميه

# د طالبانو ډلي له خوا په افغانستان کي د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون د اجرا له امله د بشري حقونو د نقض اړوند

رواداري د افغانســتان د وګړو د بنســټيزو آزاديو او حقونو په اړه «د طالبانو د امربالمعروف او نهي عن المنکر قانون»د پايلو په اړه ژوره خواشيني څرګندوي. دغه قانون چي د اسلامي شريعت څخه د افراطي، سليقوي او سختګيرانه تفسيرونو پر بنسټ رامنځته شوي دي، د زور ويلو، ازاديو د ځپلو او انســاني کرامت د نقض د کلتور د پراختيا باعث به وګرځي. دغه ډول تفسير د افغان ټولني د اسلامي منځلارو تعبيرونو سره په ټکر کي دي، اما دا ډول افراطي تفسيرونه په دغه هيواد کي نه تاريخي ريښه لري او نه به هم د خلکو په منځ کي د منلو وړ وي. له همدي امله، ياد قانون، په حقيقت کي د بشري حقونو څخه د سرغړوني او پر ټولنه باندي د بي دليله محدوديتونو د تحميل په اړه د طالبانو رسمي فرمان او حکم دي.

### ۱. د زور ويلو کلتور پراختيا او د ټولني کنترول

د «امربالمعروف او نهی عن المنکر» قانون چي د تاوتريخوالي پر لارو چارو، ځوروني، سخت اجبار او سزا باندي ټينګار لري، اجرا به يې د روز ويلو د کلتور د پياوړتيا باعث وګرځي. ځکه چي دغه قانون د طالبانو اړوند افرادو او بنسټونو ته د دي اجازه ورکوي چي د زور، فشار، ويرې او ګواښ له لاري خلک د خپلو ځانګړو مذهبي معيارونو  پيروي ته اړ کړي. دغه لار نه تنها د بشري حقونو د اصولو سره په ټکر کي ده، بلکه په ټولنه کي د ډار د فضا د رامنځته کيدو او ژوري بي اعتمادي باعث هم ګرځي.

### ۲. د ښځو د حقونو نقض او د جنسيتي تبعيض زياتوالي

دغه قانون پر ښځو باندي د سختو محدوديدتونو د وضع کولو  له امله، لکه د ځانګړي پوښښ اجباري کول، او د ښځو د ټولنيز حضور محدودول او آن د ښځو غږ، په ښکار ډول د ښځو د برابرو حقونو نقض او د جنسيتي تبعيض سختوالي ته لمن وهي. دغه کړنلاره، ښځي د انتخاب له حق او خپلو بنسټيزو حقونو څخه محروموي، او هغوي تر اوس لا هم زيات د ټولني څخه ليري کوي.

### ۳. د بيان او عقيدي د آزادی ځپل

د دغه قانون سره سم، ټول هغه عقايد او افکار چي د طالبانو د ليدلوري سره همږغي ونلري د سزا وړ بلل کيږي. پر رسنيو، کلتور او هنر باندي د شــديد کنترول، د بيان آزادی باندي د محدوديتونو وضع کولو، د فکري او کلتوري نوښــت د پراخ سانســور او ځپلو ســبب به وګرځي. دغه محدوديتونه، په ټولنه کي د آزادو خبرو اترو او د افکارو د تبادلي فضا له منځه وړي او د طالبانو ډلي فکري انحصار ته مشروعيت ورکوي.

### ۴. د خصوصي حريم نقض او په شخصي ژوند کي مداخله

دغه قانون، د طالبانو اړوند اشخاصو او بنسټونو ته اجازه ورکوي چي د افرادو پر شخصي ژوند او کړنو باندي څارنه وکړي. دغه ډول مداخلې، د ښاروندانو د خصوصي حريم ښکاره نقض دي، او د دي باعث ګرځي چي خلک په دوامداره توګه د طالبانو ډلي د څارني او کنترول لاندي و اوسي. دغه ډول څارنه نه تنها د بشري حقونو د اصولو سره په ټکر کي ده، بلکي، د قدرت څخه د ناوړه ګټي اخيستني د زياتوالي او افرادو پر حقونو باندي د تيري باعث هم ګرځي.

**۵. د کلتوري او مذهبي تنوع پر وړاندي ګواښ**

د «طالبانو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون»، د ځانګړو مذهبي او کلتوري بېلګو د تحمیل له امله، د افغانستان غني کلتوري او مذهبي تنـوع د ګـواښ سره مـخ کوي. د یو ځانګړي مذهبي لیدلوري څخه پیروي ته مجبورول، په ټولنه کي د لږکیو د ځپلو، یو بل سره د سـولییزي اوسیدني او تنوع د کمزوري کولو باعث ګرځي. دغه کړنه نه تنها د مذهبي لږکیو او نورو ټولنیزو ډلو د حقونو د سرغړوني باعث ګرځي، بلکي، په ټولنه کي ټولنیزو اختلافاتو او بي اتفاقیو ته هم لمن وهي.

**پایله**

رواداري د افغانستان د خلکو پر آزادیو او بنسټیزو حقونو باندي د «طالبانو د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون» د اجرا د مخربو پایلو په اړه ژوره اندیښــنه لري. دغه قانون، د درنښــت او یو بل سره د اوســیدني د کلتور د پراختیا په ځای، د زور ویلو، د بشري حقونو د نقض او د فردي آزادیو د نقض باعث ګرځي. رواداري په هیواد کي دننه او بهر د دیني علماؤ او چارو پوهانو، د اسلامي او سیمه ییزو هیوادونو مشرانو، نړیوالي ټولني او نړیوالو بنسټونو څخه غواړي چي د دغه قانون د لغوه کولو لپاره خپلي هڅی زیاتي کړي او د عدالت او برابرابری لپاره د افغانستان د ښځو ملاتړ وکړي.